مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۳/۰۷/۲۹

# غزل

یو لاس د دکاندار وي لس لاسونه د سوالګرو
چي کله په بازار کي څه سودا اخلم ملګرو!!

غني افغانستان بـه خامخا فقیرستـان وي
ورغلي چي په واک کي سیاست وی ددمګرو

پرون څو ماشومان و د ډوډۍ په غلا ګیر شوي!
پراته اوس په زنـدان کي دي په تور د ترهګرو!

جهازونه خو په چوف نه چالانېږي؛ کبارېږي!
عظیمه خاوره اوس شوه آشیانه د جادوګرو

دا سپیني، سپیني مه وایه د هیڅا نه خوښېږي
باوره! چي تـورن نشـي پـه نـوم د دهشتګـرو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ